

د افغانستان دعلومو اکاډیمۍ رئیسه

څېړنپوه ثریا پوپل

# دایرة‌المعارف په افغانستان کې

**لیکواله: څېړنپوه ثریا پوپل د افغانستان د علومو اکاډیمۍ رئیسه**

دایرة المعارف یا Encyclopedia د مرجع، معلوماتي او جامع کتابونو له جملې څخه دی. د علم پر بنسټ ولاړ او په زرګونو مقالې (موضوعګانې)،د شکلونو، انځورونو، جدولونو او نقشو شرحې په ځان کې رانغاړي، چې د بېلابیلو څانګو د متخصصانو او پوهانو له خوا په څو ټوکونو کې تدوین کېږي. نن ورځ دایرة‌المعارفونو خپل ارزښت د یو مأخذ او د یوې مهمې او معتبرې علمې مرجع په توګه ثابت کړی دی. دایرة‌المعارفونه نه یوازې د عمومي معلوماتو ډاډمنه سرچینه ده، بلکې ملي ارزښت هم لري. د بشریت د پوهې د ساحې په بډاینه او د تکنالوژۍ په پرمختګ سره، د علومو او د بشریت د پوهې په احاطه کې نوې اصطلاحګانې او مقولې زیاتېږي او همدارنګه د نوو دایرة‌المعارفي څېړو په راڅرګندېدو سره، د دې غوښتنه کېږي، چې د

دايرةالمعارفونو د چاپ لړۍ وخت په وخت نوې شي، پرهمدې بنسټ هر يو دايرةالمعارف بېلابيلې دورې لري.

د دايرةالمعارف ارزښت او اهميت ته په پاملرنې سره، د افغانستان حکومت په۱۳۲۰ش.(۱۹۴۱م.)کال تصميم ونيو، چې آريانا دايرةالمعارف خپور کاندي. پر همدې بنسټ يې د وخت د مطبوعاتو د مستقل رياست اړوند د پښتو ټولنې د عمومي مديريت په تشکيل کې، د ميا حسېن خان په مسئوليت د دايرةالمعارف مديريت ايجاد او د همدغه کال د زمري په مياشت کې يې کار پيل کړ. د همدغه کال په بهير کې د موضوعاتو چمتوکول او څېړل او له بېلابېلو ژبو څخه د موادو ژباړه پيل شول. په (۱۳۲۵ش.)/(۱۹۴۶م.) کال د دايرةالمعارف مديريت د مطبوعاتو د مستقل رياست په چوکاټ کې، عمومي مديريت ته ارتقاء وکړه او عمومي مدير يې محمدهاشم خان پردېس، چې وروسته يې ((ميوندوال)) تخلص غوره کړ، وټاکل شو او همدارنګه پښتو دايرةالمعارف ته هم جلا مديريت ايجاد او غلام جيلاني خان جلالي د پښتو دايرةالمعارف د مدير په توګه وټاکل شو. د دايرةالمعارف لپاره يو پروګرام تر لاس لاندې ونيول شو، چې هر ټوک يې بايد ۱۰۰۰ مخونه ولري او د هغو د هر يو د بشپړېدو تر مهاله، هر ټوک په پنځو برخو کې، چې هره برخه يې پنځه سوه مخه وي، چمتو او چاپ شي.

– د آريانا دايرةالمعارف لومړی ټوک په دري ژبه، د مير علي اصغر شعاع په مديريت په (۱۳۲۸ش.)/ (۱۹۴۹م.) کال د کابل په عمومي مطبعه کې په ۱۰۰۰مخونو کې د( ۲۱×۲۹) سانتي مترو په قطع چاپ شوی، چې د (۲۵۰۰) په شاوخوا کې عنوانونه لري.

– د آريانا دايرةالمعارف دوهم ټوک په دري ژبه، په (۱۳۳۰ش.)/(۱۹۵۱م.) کال د کابل په عمومي مطبعه کې په (۱۰۰۰) مخونو کې په مخکنۍ کچه، چې سيد احمد هاشمي د عمومي مديريت کفيل وو، چاپ شوی، چې د دې ټوک د عنوانونو شمېر هم شاوخوا ۲۵۰۰ ته رسيږي.

– د آريانا دايرةالمعارف درېيم ټوک په دري ژبه، په (۱۳۳۵ش.)/(۱۹۵۶م.اګست) کال، د کابل په عمومي مطبعه کې په (۱۰۰۰) مخونو کې د سيد احمد هاشمي په مديريت چاپ شوی دی. په دې ټوک کې افغانستان په (۶۰۰) مخونو کې، چې جغرافيايي وضعيت،لارې، غرونه، سيندونه، تاريخ، تاريخي دورې، اداري ترکيب، کرنه، صنايع، کانونه، سوداګري، ژبې، ادبيات، ليکوالان، کتابونه، موزيم او تاريخي اثارېې په کې شامل دي، معرفي شوی دی،

چې د افغانستان پېژندنې په برخه‌کې یو مهم اثرګڼل کیږي. په افغانستان پورې اړوند مطالب له دریېم ټوک سره مل په جلا کتاب کې، په اختصاصي او جلا توګه د آریانا دایرةالمعارف د انجمن له خوا چاپ شوي دي.

– د آریانا دایرةالمعارف څلورم ټوک په دري ژبه، په (۱۳۴۱ش.)/(۱۹۶۲م.) کال په (۱۰۰۰) مخونو کې د سردار محمد منګل په ریاست چاپ شوی دی.

– د آریانا دایرةالمعارف پنځم ټوک هم په دري ژبه په هماغه قطع د (۱۰۰۰) مخونو او شاوخوا (۲۵۰۰) عنوانونو په درلودلو سره په (۱۳۴۸ش.)/(۱۹۶۹م.)کال په دولتي مطبعه کې د سردار محمد منګل په ریاست چاپ شوی دی.

– د آریانا دایرةالمعارف شپږم ټوک هم په دري ژبه په هماغه قطع د (۱۳۴۸ش.) کال دکب په میاشت (۱۹۷۰م.مارچ) کې د سردار محمد منګل په ریاست د کابل په دولتي مطبعه کې چاپ شوی، چې (۳۷۱) مخونه لري.

آریانا دایرة المعارف په پښتو ژبه په اوو ټوکونو کې په ۱۳۵۴ش.کال بشپړ شو:

– لومړی ټوک یې د میرعلي اصغر شعاع په ریاست په (۱۳۲۹ش.)/(۱۹۵۰م.) کال کي د زرو مخونو په درلودلو سره، د کابل په عمومي مطبعه کې چاپ شوی دی. د مطالبو شمېرېې د (۲۵۰۰) په شاوخوا کې او قطع یې (۲۱×۲۹) سانتي متره ده.

– دوهم ټوک یې هم(۱۰۰۰)مخونه او(۲۵۰۰)عنوانه لري، په(۱۳۳۲ ش.)/(۱۹۵۳م.)کال د عزیزالرحمان سیفي په ریاست د کابل په عمومي مطبعه کې چاپ شوی دی.

– دریېم ټوک یې په (۱۳۳۷ش.) کال د سردارمحمد منګل په ریاست د نورو ټوکونو غوندې په زرو مخونو کې چاپ شوی، چې په دې برخه کې سربېره پرنورو عنوانونو د دري د دریېم ټوک غوندې د افغانستان په نامه یو کتاب هم په (۵۶۱) مخونو کې چاپ شوی دی.

– څلورم ټوک یې (۱۰۰۰) مخونه لري، په(۱۳۴۴ش.)/(۱۹۶۵م.)کال د علي محمد شینواري په ریاست د کابل په دولتي مطبعه کې چاپ شوی دی. په دې ټوک کې شاوخوا (۱۵۰۰) مضامین ځای شوي دي.

– د پښتو دایرةالمعارف پنځم ټوک په (۱۳۵۴ش.)/(۱۹۷۵م.)کال د دکتورحفیظ الله ناصر په ریاست د (۱۰۰۰) مخونو او شاوخوا(۲۵۰۰) مقالو په درلودلو سره د کابل په دولتي مطبعه کې چاپ شوی دی.

– د دې دایرةالمعارف شپږم ټوک د (۱۳۵۵ش.)کال د چنګاښ په میاشت (۱۹۷۶م.) کې د دکتورحفیظ الله ناصر په ریاست په (۶۰۰) مخونو کې، چې(۱۵۰۰) عنوانه لري د کابل په دولتي مطبعه کې چاپ شوی دی.

– د پښتو دایرةالمعارف اووم ټوک د (۱۳۵۵ش.) کال د زمري په میاشت (۱۹۷۶م.) کې د دکتورحفیظ الله ناصر په ریاست د کابل په دولتي مطبعه کې چاپ شوی، د مخونو شمېره یې له (۶۰۱) څخه پیل او تر (۱۱۵۰) پورې رسېږي او شاوخوا(۱۱۰۰) عنوانونه لري.

د آریانا دایرةالمعارف انجمن د دري او پښتو دایرةالمعارف د چاپ د لړۍ تر څنګ، د افغانستان جغرافیایي قاموس هم په سلسله واره بڼه چاپ کړی، چې په لاندې توګه یې یادونه کېږي:

– د دې قاموس لومړی ټوک د(۲۱×۳۱) سانتي مترو په قطع، د (۴۹۰) مخونو او شاوخوا(۲۹۰۰) عنوانونو په درلودلو سره په (۱۳۳۵ش.) کال د سید احمدشاه هاشمي په ریاست چاپ شوی دی.

– دوهم ټوک په (۵۰۳) مخونو او شاوخوا(۳۳۰۰) عنوانونوکې په (۱۳۳۶ش.) کال د سید احمدشاه هاشمي په ریاست چاپ شوی دی.

– دریم ټوک په (۴۹۴) مخونوکې، چې شاوخوا(۲۸۰۰) عنوانونه لري په (۱۳۳۸ش.)/(۱۹۵۹م.) کال د سردارمحمد منګل په ریاست چاپ شوی دی.

– د دې قاموس څلورم ټوک (۲۳۰) مخونه او شاوخوا(۸۰۰) عنوانونه لري د (۱۳۳۹ش.) کال د زمري په میاشت کې (۱۹۵۹م.) د چاپ په ګاڼه پسولل شوی او (۲۱×۳۱) سانتي متره قطع لري.

د افغانستان جغرافیایي قاموس په پښتو ژبه:

– لومړی ټوک یې (۴۰۴) مخونه، شاوخوا(۱۹۰۰) عنوانونه او (۲۱×۳۱) سانتي متره قطع لري، چې د (۱۳۴۰ش.) کال د مرغومي په میاشت کې (۱۹۶۱م.) د علي محمد شینواري په ریاست د کابل په دولتي مطبعه کې چاپ شوی دی.

– دوهم ټوک په (۳۸۰) مخونو او شاوخوا(۱۹۰۰) عنوانونو کې د (۱۳۴۲ش.) کال د وري په میاشت کې (۱۹۶۳م.) د علي محمد شینواري په ریاست چاپ شوی دی.

– د دې قاموس درېیم ټوک (۳۹۶) مخونه او (۲۲۰۰) عنوانونه لري او د (۱۳۴۳ش.)کال د مرغومي په میاشت (۱۹۶۴م.) کې د علي محمد شینواري په ریاست د چاپ په ګاڼه پسولل شوی دی.

– څلورم ټوک (۴۰۹) مخونه او (۱۸۰۰) عنوانونه لري او د (۱۳۴۷ش.) کال د زمري په میاشت کې (۱۹۶۸م.) چاپ شوی دی.

– پنځم ټوک (۱۸۰) مخونه او شاوخوا(۱۰۰۰) عنوانونه لري او د (۱۳۴۹ش.) کال د زمري په میاشت کې (۱۹۷۰م.) چاپ شوی دی.

– په پښتو ژبه د افغانستان د جغرافیایي قاموس شپږم ټوک (۱۹۵) مخونه او شاوخوا(۱۰۰۰) عنوانونه لري، د (۱۳۵۰ش.) کال دلیندۍ په میاشت کې (۱۹۷۱م.) چاپ شوی دی.

په دې ترتیب د آریانا دایرةالمعارف د انجمن د کارونو لومړۍ دوره په (۱۳۵۵ش.)/(۱۹۷۶م.)کال کې پای ته ورسېده.

د آریانا دایرةالمعارف د دوهم دور چاپ، شاوخوا له نیمې پېړۍ وقفې وروسته د اړتیا پر بنسټ او د افغانستان د جمهور رئیس جلالتمآب حامد کرزي د (۱۳۸۱/۵/۱۴) نېټې د (۱۱۶) ګڼه فرمان له مخې پیل شو.

د دایرةالمعارف مرکز، د دولت د مالي مرستې له تر لاسه کولو وروسته، د علوموا کاډیمي، کابل پوهنتون او د افغانستان د نورو پوهنتونونو د بېلابېلو څانګو له نخبه پوهانو څخه لومړی یو (۳۶) کسیز کمیسیون جوړ کړ او په کار یې پیل وکړ.

– د آریانا دایرةالمعارف لومړی ټوک هممهاله په پښتو او دري ژبو په (۱۳۸۶ش.) کال، د لومړي دور د قطع او لوګو په حفظ سره په کابل ښارکې د نبراسکا په مطبعه کې د ښځېرنپوه ثریا پوپل په ریاست چاپ شو، چې د "آ–ا" تورو اړوند (۱۰۴۳) عنوانونه او (۱۰۰۳) عنوانونه معرفي کوي.

– د آریانا دایرةالمعارف دوهم ټوک په پښتو او دري ژبو، چې د "ب،پ،ت،ټ" تورو اصطلاحات په کې راغلي، شاوخوا (۱۲۷۷) اصطلاحات لري او په (۱۰۳۸) مخونو کې د ښځېرنپوه ثریا پوپل په ریاست په (۱۳۸۷ش.) کال چاپ شوی دی.

– د آریانا دایرةالمعارف درېیم ټوک په پښتو او دري ژبو، چې د "ث،ج،چ،ح،خ،ځ،څ،د،ډ،ذ" تورو اصطلاحات په ځان کې رانغاړي، شاوخوا (۱۲۷۲) اصطلاحات لري او په (۹۷۴) مخونو کې د ښېرنپوه ثریا پوپل په ریاست په (۱۳۸۹ش.) کال چاپ شوی دی.

– د آریانا دایرةالمعارف څلورم ټوک په پښتو او دري ژبو، چې د "ر،ز،ژ،ږ،س،ش،ښ،ص،ض" تورو اصطلاحات په کې راغلي، شاوخوا (۱۰۲۸) اصطلاحات لري او په (۹۶۱) مخونو کې د ښېرنپوه ثریا پوپل په ریاست په (۱۳۹۰ش.) کال چاپ شوی دی.

– د آریانا دایرةالمعارف پنځم ټوک په پښتو او دري ژبو، چې د "ط،ظ،ع،غ،ف،ق،ک" تورو اصطلاحات په ځان کې رانغاړي، شاوخوا (۱۱۰۱) اصطلاحات او (۱۱۱۷) مخونه لري، د (۱۳۹۲ش.) کال په وروستیو کې د چاپ په ګانه پسولل کیږي.

– د دایـرةالمعـارف د مـرکز د ریـاست لـه پـلان سره سم، د آریانا دایرةالمعارف دوهم دور په شپږو ټوکونو کې بشپړیږي. په شپږم ټوک کې به د "ګ، ل، م، ن، ڼ، و ،هـ،ی" تورو اړوند اصطلاحات وي.

د دایرةالمعارف د مرکز ریاست پلان لري، چې په راتلونکې کې علمي– فرهنګي ټولنې او ټولو استفاده کوونکو ته آریانا دایرةالمعارف په CD کې او همدارنګه په آن لاین (On line) توګه وړاندې کړي.